افغان کرکټ

AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board

ACB

اووم کال، نهمه ګڼه

سپتمبر - ۲۰۲۰ کال

بریــــــا د ټولو هیله

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنیو او بازار موندنې څانګه
میاشتنۍ مجله
سپټمبر - ۲۰۲۰

مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي:

پرهیز شګیوال او حکمت الله دولتزی

عکس اخیستونکي:

سید حسرت سادات او صدیق الله عابد

ډیزاین: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزیزي

media@afghancricket.af

AfghanistanCricketboardOfficial

@ACBOfficials

afghanistancricketboard

www.cricket.af

Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لړلیک

سرمقاله	۱
ولسمشر غني: کابل کې به د کرکټ لپاره معياري لوبغالی جوړ شي	۲
کابل بازانو د شپږيزي کرکټ ليګ اووم پړاو سياليو اتلولي خپله کړه	۸
دويمه لوبه: سپين غر زمريان د امو نهنګان پر وړاندې	۱۲
دريمه لوبه: کابل بازان د بست ساتونکو پر وړاندې	۱۴
څلورمه لوبه: مس عينک د کابل بازان پر وړاندې	۱۶
پنځمه لوبه: بند امير ښاماران د بست ساتونکو پر وړاندې	۱۸
شپږمه لوبه: امو نهنګان د بند امير ښاماران پر وړاندې	۲۰
اوومه لوبه: مس عينک ا تلان د سپين غر زمريانو پر وړاندې	۲۲
اتمه لوبه: بست ساتونکی د سپين غر زمريانو پر وړاندې	۲۴
نهمه لوبه: کابل بازان د امو نهنګان پر وړاندې	۲۶
لسمه لوبه: بند امير ښاماران د سپين غر زمريانو پر وړاندې	۳۰
۱۱مه لوبه: مس عينک اتلان د بست ساتونکو پر وړاندې	۳۲
۱۲مه لوبه: کابل بازان د بند امير ښاماران پر وړاندې	۳۴
۱۳مه لوبه: امو نهنګان د مس عينک اتلان پر وړاندې	۳۶
۱۴مه لوبه: کابل بازان د سپين غر پر وړاندې	۳۸
۱۵مه لوبه: امو نهنګان د بست ساتونکو پر وړاندې	۴۰
۱۶مه لوبه: د لومړي کواليفاير پړاو	۴۲
۱۷مه لوبه: د ايليمينېټر پړاو	۴۴
۱۸مه لوبه: دويم کواليفاير لوبه	۴۶
۱۹مه لوبه: د اتصالات فورجي شپږيزي کرکټ ليګ اووم پړاو سياليو پايلوبه	۴۸
مشرانو جرگه از رييس عمومی کرکت بورد تقدير به عمل آورد	۵۴
پردرخشش ترين بازيکنان فصل هفتم ليگ کرکت شپگيزه	۵۶

سرمقاله

د اتصالات فورجي شپږيزي کرکټ ليګ اووم پړاو سيالی د تېر په څېر په ډېره ښه توګه او ولولو سره ترسره شوې چې په پايله کې يې د ايوبي کابل بازان لوبډلې د ياد پړاو اتلولي په خپل نوم کړه. په ياد پړاو سياليو کې له بست لوبډلې پرته نورې ټولې لوبډلې د بېلابېلو ملي سوداګرو له لوري وپېرل شوې او د لوبډلو د ملکيت امتيازونه يې ترلاسه کړل. د امو نهنګان لوبډله د نويد احمدزي، د مس عينک اتلان لوبډله د حضرت لمېټېډ، د سپين غر زمريانو لوبډله د اکټو سکرو ټولنې، د کابل بازان لوبډله د ايوبي کمپلکس او د بند امير ښاماران لوبډله د ډيلي فرېش له لوري خپلې شوې او د اووم پړاو سياليو د سرليک امتياز بيا د اتصالات فورجي ترلاسه کړ.
په ياد پړاو سياليو کې هم ډېر نوي استعدادونه رابرسېره شول چې ننګيالی خروټی يې يوه ښه بېلګه ده او هېوادوالو خپل اتلان د کرکټ په لوبغالي کې له نږدې او د ټلويزيون پر پردې وليدل.
افغانستان کرکټ بورډ همېشه هڅه کړې، ترڅو د کرکټ لوبې له لارې هېوادوال خوښ وساتي او د بېلابېلو لوبړيو او ټورنمنټونو له لارې هېواد ته وياړونه او د افغان کرکټ ډګر ته استعدادونه رامنځته کړي.

درنښت

ولسمشر غني

کابل کې به د کرکټ لپاره معیاري لوبغالی جوړ شي

د اتصالات فورجي شپږیزي کرکټ لیگ اووم پړاو سیالیو د پرانیستې مراسم د سپټمبر میاشتې په پنځمه نېټه ترسره شول چې پکې د هېواد ولسمشر جلالتمآب محمد اشرف غني هم ګډون درلود او په دغو مراسمو کې یې د کرکټ په تړاو پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې، چې له ډلې یې په کابل کې د یوه معیاري لوبغالي رغول هم شامل و. په یادو مراسمو کې د ولسمشر سربېره د جلالتماب ولسمشر لومړي مرستیال ښاغلي امرالله صالح، د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلی فرهان یوسفزي، د دغې ادارې مسوولینو او کارکوونکو، د ادارې د بورډ غړو، ملي لوبغاړو، د ملي ټلویزیون رییس او کارکوونکو او د کرکټ مینه والو شتون درلود.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي په دې مراسمو کې ټولو ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل: ((شپږیزه کرکټ لیګ د پیاوړو او پټو استعدادونو لیګ دی چې د راشدخان، قیس احمد، نوراحمد، مجیب الرحمن په څېر او ورته نور پیاوړي ستوري مو ترې تر لاسه کړي دي او هیله لرو چې په راتلونکي پړاو کې هم د یادو اتلانو په څېر نور ډېر پټ استعدادونه پیدا کړو.)) ښاغلي یوسفزي زیاته کړه: ((له کله راهیسې چې د کرکټ بورډ د عمومي رییس په توګه په دنده ګومارل شوی یم، لومړیتوب مې د افغان لوبغاړو ترمنځ بشپړ یووالی او د یوه واحد غږ رامنځته کول وو چې په دغه چاره کې ډېر بریالی وم. همدارنګه د کرکټ بورډ له اعلی سرپرست او

جلالتماب ولسمشر مننه کوم چې همېشه یې زموږ غږ اورېدلی او ستونزې یې راته حل کړې دي.))
دغه راز ښاغلي یوسفزي د اداري لاسته راوړنو ته هم اشاره وکړه او په وینا یې، اوسمهال اداره بشپړ روڼ مسیر ته داخله شوې، غوره حکومتولي پکې ساه اخیستې او د لا ډېر پرمختګ او پیاوړتیا پر لوري روانه ده چې له مالي اړخه نیولې، د استعدادونو تر موندنې، د پالیسیو تر تدوین او نورو ډېرو لاسته راوړنو پورې.
همدارنګه په دغه ناسته کې د هېواد ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني هم وویل: ((تاسو هغه ریښتیني اتلان یاست چې د نړۍ پر ګوټ ګوټ مو د جمهوریت بیراغ ورپاوه او نړیوالو ته مو د ریښتیني او ښکلي افغانستان څېره ورپېژندلې ده.))
جلالتمآب ولسمشر همدارنګه په دغو مراسمو کې د کرکټ د نوي لوبغالي د جوړېدو په اړه هم وویل: ((زه به د ښاري پراختیا د عالي شورا په ناسته کې د کرکټ د نوي معیاري لوبغالي لپاره په کابل کې د ځمکې د ځانګړې کولو چاره هم تایید کړم او ډاډمن یم چې یو معیاري او د ټولو اسانتیاوو درلودونکی لوبغالی به ولرو، ځکه لوبغاړي پر موږ حق لري.((
ولسمشر همدارنګه زیاته کړه، تاسو د نوي او پرمختللي افغانستان ریښتیني څېره یاست، ځکه افغانستان مو د نړۍ د لس غوره هېوادونو په قطار کې

ځلانده ساتلي او تاسو ستورو همېشه په خپلې پیاوړتیا او زړورتیا سره مونږ ته ویاړونه راوړي. په دغو مراسمو کې د جلالتماب ولسمشر لومړي مرستیال ښاغلي امرالله صالح هم خبرې وکړې او ویې ویل، کرکټ هغه لوبه ده چې د افغانانو د ویاړونو لامل شوې او مونږ ټولو ته یې همېشه خوښی راکړې دي. ښاغلي صالح زیاته کړه، زه د کرکټ په ژبه هغومره نه پوهېږم، بلکې د خپلو ټولو هېوادوالو په ژبه ډېر ښه پوهېږم، چې تاسو یې د خوښی لامل شوي یاست نو تاسو زمونږ رښتیني اتلان او ویاړونه یاست. له دغې مراسمو وروسته پر سبا یې (د سپټمبر شپږمه) د اتصالات فورجي شپږیزې کرکټ لیګ اووم پړاو سیالی هم پیل شوې چې لومړنی لوبه یې د حضرت لمېټېډ مس عینک اتلانو او ډېلي فرېش بند امیر ښامارانو ترمنځ ترسره شوه.

کابل بازانو

د شپږیزي کرکټ لیگ اووم پړاو سیالیو اتلولي خپله کړه

د اتصالات فورجي شپږیزي کرکټ لیگ اووم پړاو سیالۍ چې د روان ۲۰۲۰ز کال د سپټمبر میاشتې په ٦مه نېټه پیل شوې، د همدې میاشتې تر ١٦مې نېټې پورې یې دوام وموند چې په پایله کې یې د شپږو لوبډلو له منځه د ایوبي کابل بازان لوبډلې د تېر کال اتلې مس عینک لوبډلې ته په ماتې ورکولو سره د اووم پړاو اتلولي خپله کړه.

لـــومړنی لـــوبه

مس عینک اتلان د بند امیر ښامارانو پر وړاندې

د دغو سیالیو لومړنی لوبه د سپټمبر میاشتې په شپږمه نېټه د ډېلي فرېش بند امیر ښامارانو او حضرت لمېټېډ مس عینک اتلانو ترمنځ ترسره شوه چې په پایله کې یې مس عینک اتلانو سیال لوری د یوې منډې په توپیر له ماتې سره مخ کړ.

په دغه لوبه کې مس عینک اتلانو په ۲۰ اورونو کې د اوو ویکټو په غورځېدو ۱۷۹ منډې وکړې او بند امیر ښاماران لوبډلې ته یې د ۱۸۰ منډو هدف وټاکه، خو بند امیر ښاماران لوبډلې د سیال لوري هدف پوره نه کړای شو او د یوې منډې په توپیر یې له حضرت لمېټېډ مس عینک اتلانو ماتې وخوړه.

دویمه لــوبه

سپین غر زمریان د امو نهنگان پر وړاندې

وړپسې د شپږیزې کرکټ لیګ اووم پړاو سیالیو دویمه لوبه چې د همدې میاشتې په اوومه نېټه ترسره شوه؛ د اکټو سپین غر زمریانو او د نوید احمدزي امو نهنګان لوبډلې ترمنځ وشوه. د یادې لوبې په پایله کې د کریم صادق د غوره توپ اچونې په پایله کې چې د سیال لوري پنځه ویکټې یې ترلاسه کړې وې، سپین غر لوبډلې د دغو سیالیو لومړنۍ بریا خپله کړه. سپین غر لوبډلې په دغه لوبه کې سیال لوري ته د شپږو ویکټو له لاسه ورکولو وروسته له امو نهنګان لوبډلې ۱۵۰ منډې ترلاسه کړې، خو نهنګان لوبډلې یاد هدف پوره نه کړای شو او دغه لوبه یې د سپین غر زمریانو ته وبایلله.

دریمه لــــوبه

کابل بازان د بست ساتونکو پر وړاندې

دغه لوبه چې د سپټمبر میاشتې په اوومه نېټه ترسره شوه، په ترڅ کې یې د ډېوه ګروپ بست ساتونکو لوبډلې د ایوبي کابل بازان لوبډلې ته د ۵۷ منډو په توپیر ماتې ورکړه. په دغه لوبه کې بست ساتونکو لومړی توپوهنه ترسره کړه چې په پایله کې یې له سیال لوري د دریو ویکټو په غورځېدو د ۱۷۲ منډې ترلاسه کړې.

ورپسې ایوبي کابل بازانو لوبډلې د توپوهنې پاړی پیل کړه چې په ۱۹،۱ اوړونو کې یې د ټولو ویکټو په غورځېدو سره ۱۱۵ منډې وکړې او لوبه یې د ۵۷ منډو په توپیر له بست لوبډلې وبایلله چې د بست لوبډلې لپاره د ګلبدین او سید شېرزاد غوره توپ اچونه چې هر یوه یې درې ویکټې اخیستې وې؛ د بریا لامل شوه.

څلورمه لوبه

مس عینک اتلان د کابل بازان پر وړاندې

د شپږیزي کرکټ لیګ اووم پړاو سیالیو څلورمه لوبه چې د سپټمبر میاشتې په اتمه نېټه ترسره شوه، د مس عینک اتلان د کابل بازان لوبډلې پر وړاندې ډګر ته ښکته شول چې په پایله کې یې ایوبي کابل بازانو سیال لوری د څلورو ویکټو په توپیر له ماتې سره کړ. دغه لوبه چې پچه یې د کابل بازان لوبډلې ګټلې وه او مس عینک اتلانو ته یې د توپوهنې بلنه ورکړې وه، په پایله کې یې مس عینک اتلانو د شپږو ویکټو د غورځېدو سره سیال لوري ته د ١٦۴ منډو هدف وټاکه. کابل بازان لوبډلې د یاد هدف د پوره کولو په موخه ډېره په زړه پورې توپوهنه ترسره کړه چې له منځه یې د نورعلي ځدراڼ ٦١ منډې د یادونې وړ دي چې په پایله کې کابل بازانو لوبډلې د مس عینک هدف د لوبې په ١٩ اور کې د شپږو ویکټو له غورځېدو وروسته پوره کړ او بریا یې خپله کړه. په دغه سیالي کې د لوبې د غوره لوبغاړي او ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه نورعلي ځدراڼ ته د ٦١ منډو په بدل کې ورکړل شوه او د مس عینک اتلانو شاهدالله کمال بیا د سټایلش لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

پنځمه لوبه

بند امیر ښاماران د بست ساتونکو پر وړاندې

د شپږيزې کرکټ لیګ اووم پړاو سیالیو په پنځمه لوبه کې چې د سپټمبر میاشتې په ۸مه نېټه ترسره شوه، پکې د بند امیر ښاماران لوبډلې خپل سیال لوری د نهو ویکټو په توپیر له ماتې سره مخ کړ. په دغه سیالۍ کې د لوبډلمشر اصغر افغان او عثمان غني د غوره توپوهنې او شرف الدین اشرف غوره توپ اچونه د بند امیر لوبډله د بریا لامل شوه.

بست لوبډلې لومړی د توپوهنې په ترسره کولو سره د نهو ویکټو په غورځېدو ۱۳۳ منډې وکړې او بند امیر ښامارانو ته یې د ۱۳۴ منډو هدف وټاکه. بند امیر ښامارانو دغه هدف د یوې ویکټې په غورځېدو سره په ۱۵ اورونو کې بشپړ کړ. د بند امیر ښامارانو لپاره شرف الدین اشرف څلور او وقار سلامخېل درې ویکټې واخیستې چې د دوی غوره توپ اچونه د بند امیر د بریا لامل شوه. همدارنګه عثمان غني او اصغر افغان د خپلې لوبډلې لپاره په ترتیب سره ۶۲ ناسوخېدلې او ۵۵ منډې وکړې.

پر همدې بنسټ د یادې لوبې د غوره لوبغاړي جایزه د غوره توپ اچونې له امله شرف الدین اشرف، د ستایلېش لوبغاړي جایزه عثمان غني او د ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه اصغر افغان ته ورکړل شوه.

شپږمه لوبه

امو نهنګان د بند امیر ښامارانو پر وړاندې

د دغو سیالیو شپږمه لوبه د امو نهنګان او بند امیر ښاماران لوبډلو ترمنځ د سپټمبر میاشتې په نهمه نېټه د سهار ۹:۳۰ بجې پیل شوه چې په پایله کې یې بند امیر ښامارانو د امو نهنګان لوبډلې ته د اوو ویکټو په توپیر ماتې ورکړه. امو نهنګان لوبډلې د توپوهنې په پیلولو سره د پنځو ویکټو په غورځېدو سیال لوري ته د ۱۴۳ منډې هدف وټاکه چې له ډلې یې درویش رسولي ډېرې ۵۲ منډې کړې وې. ورپسې د ډېلې فرېش بند امیر ښامارانو د توپوهنې پاڼۍ پیل کړه چې د توپوهونکو له منځه یې عثمان غني ۵۷ ډېرې، حضرت الله ځاځي ۳۸، ناصر جمال ۲۰ ناسوځېدلې او اکرام علي خېل ۱۸ ناسوځېدلې منډې ترلاسه او خپله لوبډله یې د بریا تر کچې ورسوله. له همدې امله د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه عثمان غني، د سټایلېش لوبغاړي جایزه عبدالواسع او د ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه درویش رسولي ته ورکړل شوه.

اوومه لوبه

مس عینک اتلان د سپین غر زمریانو پر وړاندې

د یادو سترو سیالیو اوومه لوبه د سپټمبر میاشتې په نهمه نېټه د مس عینک اتلانو او سپین غر زمریانو ترمنځ ترسره شوه چې په پایله کې یې د مس عینک اتلان لوبډلې سیال لوری د ۵۸ منډو په توپیر مات کړ. په دغه سیالۍ کې لومړی د مس عینک اتلان لوبډلې توپوهنه ترسره کړه چې د څلورو ویکټو په غورځېدو سره یې په ۲۰ اورونو کې ۲۲۱ منډې واخیستې چې له منځه یې بهارعلي شینواري ٦٥، حشمت الله شهیدي ۵۳ او محمد شهزاد ۵۲ ډېرې منډې ترسره کړې. وروسته سپین غر زمریانو د توپوهنې پاړې پیل کړه چې په ۱۸،۳ اورونو کې یې د ټولو ویکټو په غورځېدو سره ۱٦۳ منډې واخیستې او سیال لوري ته یې د ۵۸ منډو په توپیر لوبه وبایلله. د مس عینک اتلانو بهار علي شینواری د لوبې د غوره لوبغاړي او د ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي او عبدالله مزاري بیا د ستاېلېش لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

اتمه لوبه

بست ساتونکي د سپین غر زمریانو پر وړاندې

د شپږیزې په اتمه لوبه کې چې د سپټمبر په ۱۰مه پکې بست ساتونکي د سپین غر زمریانو پر وړاندې ډګر ته ښکته شول چې په پایله کې یې سپین غر زمریانو خپل سیال لوری د پنځو منډو په توپیر له ماتې سره مخ کړ. په دغه لوبه کې چې لومړی سپین غز زمریانو ته د توپوهنې نوبت ورکړل شوی و، په پایله کې یې سپین غر خپل سیال لوري ته د ۱۷٦ منډو هدف وټاکه چې له منځه یې تمیم سرخرودي ۷۹ او مجید عالم ۵۲ ډېرې منډې وکړې. ورپسې د بست ساتونکو خپله پاړی پیل کړه، خو په ټولو ۲۰ اوړونو کې یې د اتو ویکټو په غورځېدو سره ۱۷۰ منډې وکړې او د سیال لوري هدف یې ترلاسه نه کړای شو چې په دې سره یې سیال لوري ته خپله ماتې ومنله. پر همدې بنسټ د دغې لوبې د غوره لوبغاړي او ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه تمیم سرخرودي او د سټایلېش لوبغاړي جایزه مجید عالم ته ورکړل شو.

نهمه لوبه

بست ساتونکي د سپین غر زمریانو پر وړاندې

دغه لوبه چې د سپټمبر میاشتې په ۱۰مه د کابل په کرکټ لوبغالي کې ترسره شو، په پایله کې یې د کابل بازان لوبډلې سیال لوری د ٦١ منډو په توپیر له ماتې سره مخ کړ. د یادې لوبې د توپوهنې پاڼی لومړی د کابل بازان لوبډلې ترسره کړه چې پکې رحمن الله ګربز ډېر ښه وځلېده او ۹۹ منډې یې ترلاسه کړې. د ایوبي کابل بازانو لپاره همدارنګه سمیع الله شینواري ۴۴ او عظمت الله عمرزي ۴۱ منډې وکړې چې د ۲۰ اورونو په لوبولو او د ۵ ویکټو په سوځېدو یې سیالې لوبډلې ته د ۲۲۴ منډو هدف وټاکه چې په یادو سیالیو کې تر ټولو ستر هدف و. امو نهنګان لوبډلې له ۱٦۲ منډې ترلاسه کړې، خو لوبه یې وبایلله چې د یادې لوبډلې لپاره درویش رسولي ۷۳ ډېرې منډې وکړې. د دغې لوبې د غوره لوبغاړي او ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه رحمن الله ګربز او د سټایلېش لوبغاړي جایزه بیا درویش رسولي ته ورکړل شوه.

RANA Technologies Enterprises is a dynamic and leading ISP/ICT and BPO Company in Afghanistan, providing high-quality broadband Internet services, ICT "Turn-key" solutions, and BPO services since 2005



Services

Internet Service
IT Hospital
Malomaat 411
RANA BPO

For more information call
0798 85 85 85

RANA رانا TECHNOLOGIES

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan
www.ranatech.com
info@ranatech.com

لسمه لوبه

بند امیر ښاماران د سپین غر زمریانو پر وړاندې

د اووم پړاو سیالیو په لسمه لوبه کې (۱۱ سپټمبر) د بند امیر ښاماران د سپین غر زمریانو پر وړاندې ډگر ته ښکته شول چې په پایله کې یې ښامارانو د اوو ویکټو په توپیر زمریان له ماتې سره مخ کړل. دا چې د لوبې پچه سپین غر زمریانو گټلې وه، لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه چې په پایله کې یې د پنځو ویکټو په غورځېدو سره سیالې لوبډلې ته د ۱۴۰ منډو هدف وټاکه. همدارنگه د بند امیر ښامارانو هم د خپلې توپوهنې پانۍ پیل کړه چې ډېره چټکه توپوهنه یې ترسره کړه او ۱٦،۱ اورونو کې یې د دریو ویکټو په غورځېدو سره بریا خپله کړه. د یادې لوبې د غوره لوبغاړي او ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه اصغر افغان او د سټایلېش لوبغاړي جایزه حضرت الله ځاځي ترلاسه کړه.

یولسمه لوبه

مس عینک اتلان د بست ساتونکو پر وړاندې

د شپږیزې کرکټ لیګ اووم پړاو سیالیو ۱۱مه لوبه د سپټمبر میاشتې په یوولسمه نېټه ترسره شوه چې پکې مس عینک اتلان د بست ساتونکو پر وړاندې ډګر ته ښکته شول او په پایله کې یې مس عینک اتلانو له سیالې لوبډلې د څلورو ویکټو په توپیر ماتې وخوړه. د لوبې پچه مس عینک اتلانو ګټلې وه چې لومړی یې د سیالې لوبډلې پر وړاندې د توپوهنې پرېکړه وکړه او د دوه ویکټو په سوځېدو یې له سیال لوري ۱۸۸ منډې ترلاسه کړې چې له منځه یې د محمد شهزاد ۱۰۶ ناسوځېدلې منډې د یادونې وړ دي. وروسته بست ساتونکو خپله پانۍ پیل کړه چې د لوبې په وروستي توپ چې یو منډې ته اړتیا وه، بریا خپله کړه چې له منځه یې د یادې لوبډلې لوبډلمشر ګلبدین نایب ستر مسوولیت پر غاړه واخیست او لوبډله یې د بریا تر څوکې پورې ورسوله. پر همدې بنسټ د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه او ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه ګلبدین نایب او د سټایلش لوبغاړي جایزه محمد شهزاد ته ورکړل شوه.

دولسمه لوبه

کابل بازان د بند امیر ښاماران پر وړاندې

په دغه لړ کې د شپږیزې ۱۲مه لوبه د کابل بازان او بند امیر ښاماران ترمنځ د سپټمبر میاشتې په دولسمه نېټه ترسره شوه چې پکې کابل بازان لوبډلې سیال لوري ته د دوو ویکټو په توپیر ماتې ورکړه. دا چې بند امیر ښاماران لومړی توپوهنې ته رابلل شوي و، په پایله کې یې په ټولو ۲۰ اوړونو کې ۱۴۶ منډې ترلاسه کړې. وروسته د کابل بازان لوبډلې د توپوهنې پاړی پیل کړه چې د شلم اور په وروستي توپ یې د سمیع الله شینواري د څلوریزې په پایله کې د اتو ویکټو په تاوان بریا خپله کړه او سیال لوري ته یې د دوو ویکټو په توپیر ماتې ورکړه. په دغه لوبه کې سمیع الله شینواری ډېر ښه وځلېده او د ۵۸ ناسوځېدلې منډې یې د خپلې لوبډلې په ګټه ترسره کړه چې پر همدې بنسټ، د غوره لوبغاړی او ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه سمیع الله شینواري او فرهاد مومند سټایلېش لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

دیارلسمه لوبه

امو نهنګان د مس عینک اتلان پر وړاندې

د سپټمبر میاشتې په ۱۲مه نېټه ماسپښین مهال د مس عینک اتلان د امو نهنګان پر وړاندې ډګر ته ښکته شول چې په پایله کې یې مس عینک اتلانو د امو نهنګان لوبډلې ته د ۱۳۱ منډو په توپیر ماتې ورکړه او بریا یې خپله کړه.
دا چې په یاده لوبه کې د مس عینک اتلان لومړی توپوهنې ته رابلل شوي و، په خپله پاری کې یې د ۵ ویکټو په غورځېدو سره له سیالې لوبډلې ۱۹۳ منډې ترلاسه کړې او ۱۹۴ منډې هدف یې ورته وټاکه چې له منځه یې حشمت الله شهیدي ۸۲ ناسوځېدلې او ډېرې منډې ترلاسه کړې.
ورپسې د امو نهنګان لوبډلې د توپوهنې پاری پیل کړه چې ډېر ژر یې یو په بل پسې خپلې ویکټې له لاسه ورکړې او په ۱۲ اورونو کې یې له ۶۲ منډو ترلاسه کولو وروسته سیال لوري ته د ۱۳۱ منډو په توپیر ماتې ومنله.
په دغه لوبه کې د مس عینک دولت ځدران ډېره جالبه توپ اچونه وکړه چې د نهو ویکټو په ورکړې سره یې پنځه لوبغاړي له ډګره بهر کړل. د یادې لوبې د غوره لوبغاړي جایزه حشمت الله شهیدي، د ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه بهارعلي شینواري او د سټایلېش لوبغاړي جایزه بیا دولت ځدران ته ورکړل شوه.

ځوارلسمه لوبه

کابل بازان د سپین غر زمریانو پر وړاندې

دغه لوبه چې د سپټمبر میاشتې په ۱۳مه نېټه ترسره شوه، په پایله کې یې کابل بازان لوبډلې د سپین غر زمریانو لوبډلې ته د شپږو ویکټو په توپیر ماتې ورکړه. دا چې سپین غر زمریانو د سیال لوري پر وړاندې لومړی توپوهنه ترسر کړه، په پایله کې یې د اتو ویکټو په غورځېدو سره ۱۴۲ منډې وکړې او سیال لوري ته یې د ۱۴۳ منډو هدف وټاکه. ورپسې کابل بازان لوبډلې د خپلې توپوهنې پانۍ پیل کړه چې په ۱۷،۵ اوړونو کې یې د څلورو ویکټو د غورځېدو په پایله کې د مقابل لوري هدف پوره کړ او د دغې لوبې بریا یې خپله کړه.

له همدې امله د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه د کابل بازانو عظمت الله عمرزي، د ډېرو شپږیزو وهونکي او سټایلېش لوبغاړي جایزه رحمن الله ګربز ته ورکړل شوه.

پنځلسمه لـــوبه

امو نهنګان د بست ساتونکو پر وړاندې

دغه لوبه چې د سپټمبر میاشتې په ۱۳مه نېټه ترسره شوه، په پایله کې یې بست لوبډلې سیال لوری امو لوبډله د ۱۰ ویکټو په توپیر له ماتې سره مخ کړه. دا چې بست ساتونکو د لوبې پچه ګټلې وه نو امو یې لومړی توپوهنې ته راوباله چې په پایله کې یې امو د ټولو ۲۰ اوورونو د لوبولو په پایله کې د پنځو ویکټو په غورځېدو سره ۱۲۲ منډې وکړې او سیال لوري ته یې د ۱۲۳ منډو هدف وټاکه.

ورپسې بست لوبډلې د توپوهنې پاڼۍ پیل کړه چې د عمران جنت او کریم جنت په یوه ملګرتیا یې د سیال لوري هدف پوره کړ چې په یاد پړاو سیالیو کې دا لومړی ځل و چې په پیلونکې توپوهنې سره د سیال لوري هدف پوره کېږي.

د ډېوه ګروپ بست ساتونکو لپاره کریم جنت ٦۴ ناسوځېدلې او عمران جنت ۵۷ ناسوځېدلې منډې وکړې او خپله لوبډله یې په ۱۱،۳ اوورونو کې تر بریا ورسوله.

پر همدې بنسټ د غوره توپوهنې له امله کریم جنت د لوبې د غوره لوبغاړي، درویش رسولي د ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي او عمران جنت د سټایلېش لوبغاړي جایزې ترلاسه کړې.

د لومړي کواليفاير پړاو
مس عينک اتلان د کابل بازانو پر وړاندې

د شپږيزې کرکټ ليګ اووم پړاو سياليو په لومړي کواليفاير پړاو کې (د سپټمبر ۱۴مه) د مس عينک اتلان لوبډله د کابل بازان لوبډلې سره ډګر ته ښکته شوه چې په پايله کې يې د کابل بازان لوبډلې بريا خپله کړه او په مستقيم ډول يې پايلوبې ته لاره ومونده. حضرت لمبېډه مس عينک اتلانو د شل اورونو په لوبولو سره د دريو ويکټو په تاوان ۲۰۸ منډې ترلاسه کړې چې له منځه يې حشمت الله شهيدي ۹۷ ډېرې، غمي ځدراڼ ۴۶ او شهزاد محمدي ۴۰ منډې وکړې. ورپسې د کابل بازان لوبډلې د

توپوهنې پاڼۍ پيل کړه چې د لوبې په وروستي اور کې يې بريا خپله کړه چې له ډلې يې د نورعلي ځدراڼ ۸۵ منډې او د عظمت الله عمرزي چټکه توپوهنه د يادولو وړ ده چې ٦٢ ناسوځېدلې منډې يې ترلاسه کړې او خپله لوبډله يې په ۱۹،۱ اور کې د شپږيزې په پايله کې بريا ته ورسوله. د دغې ورځې د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه نورعلي ځدراڼ، د ډېرو شپږيزو وهونکي لوبغاړي او د سټايلېش لوبغاړي جايزه عظمت الله ته ورکړل شوه او پر همدې بنسټ د کابل بازان لوبډلې په مستقيم ډول د شپږيزې کرکټ ليګ اووم پړاو سياليو پايلوبې ته لاره موندله.

د ایلیمینېټر پړاو

بند امیر ښاماران د بست ساتونکو پر وړاندې

د شپږیزې سیالیو په ۱۷مه لوبه یا ایلیمینېټر پړاو کې د بند امیر ښاماران د بست ساتونکو پر وړاندې ډګر ته ښکته شول چې په پایله کې یې بند امیر ښامارانو سیال لوري ته د ۷۶ منډو په توپیر ماتې ورکړه او پر همدې بنسټ یې د دویم کوالیفایر پړاو ته لاره ومونده او په راتلونکې لوبه کې به د مس عینک اتلان لوبډلې پر وړاندې لوبه وکړي.

دا چې بند امیر ښاماران لوبډلې د توپوهنې پانۍ پیل کړې وه، دغه لوبه کې یې ډېره په زړه پورې توپوهنه ترسره کړه چې یادې لوبډلې د ووه ویکټو په غورځېدو سره له سیال لوري د دغه پړاو له ټولو ډېرې ۲۳۲ منډې ترلاسه کړې او سیال لوري ته یې د ۲۳۳ منډو هدف وټاکه.

د بند امیر ښامارانو لپاره لوبډلمشر اصغر افغان ډېره زړوره او په زړه پورې توپوهنه وکړه چې له پیل تر پایه یې ۹۵ ناسوځېدلې منډې وکړې او د خپلې لوبډلې لپاره یې ستر هدف وټاکه.

وروسته بست ساتونکو توپوهنه پیل کړه، خو یو په بل پسې یې ویکټې له لاسه ورکړې او د بند امیر ښامارانو هدف یې پوره نه کړای شو.

پر همدې بنسټ د دغې لوبې د ستایلېش لوبغاړي جایزه میرویس اشرف او د غوره لوبغاړي او ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه د ډېلي فرېش بند امیر ښامارانو لوبډلمشر اصغرافغان ته ورکړل شوه.

دویم کوالیفایر پړاو

بند امیر ښاماران د مس عینک اتلانو پر وړاندې

دا چې د ایلیمینېټر په لوبه کې بند امیر ښامارانو لوبډلې بریا خپله کړې وه او په لومړي کوالیفایر کې مس عینک اتلانو لوبه بایللې او کابل بازانو لوبډلې د لوبې په خپلولو سره دووم پړاو سیالیو پایلوبې ته لاره موندلې وه، په ترڅ کې یې په دویم کوالیفایر کې حضرت لمېټېډ مس عینک اتلان له بند امیر ښاماران سره مخ شول.

په دغه لوبه کې د حضرت لمېټېډ مس عینک اتلان لوبډلې د ډېلي فرېش بند امیر ښامارانو پر وړاندې ډګر ته ښکته شول چې په ترڅ کې یې حضرت لمېټېډ مس عینک اتلانو سیال لوری د پنځو ویکټو په توپیر مات کړ او د ووم پړاو سیالیو پایلوبې ته یې لاره ومونده.

دا چې د بند امیر ښامارانو لوبډلې د لوبې پچه وګټله لومړی یې د سیالې لوبډلې پر وړاندې د توپوهنې پرېکړه وکړه چې د ټولو ۲۰ اوورونو په لوبولو سره یې د اتو ویکټو په تاوان له سیال لوري ۱۷۸ منډې ترلاسه کړې.

ورپسې مس عینک اتلان لوبډلې د توپوهنې پانې پیل کړه چې له منځه یې بهارعلي شینواري ۴۷ ډېرې، شاهدالله کمال ۴۲، افسر ځاځي ۳۵ ناسوځېدلې او حشمت الله شهیدي ۲۲ منډې وکړې چې په پایله کې سیال لوري ته د پنځو ویکټو په توپیر ماتې ورکړه.

پر همدې بنسټ د لوبې د غوره لوبغاړي او ډېرو شپږیزو وهونکي لوبغاړي جایزه شاهدالله کمال او د سټایلېش لوبغاړي جایزه بهارعلي شینواري ته ورکړل شوه.

د اتصالات فورجي شپږيزي کرکټ ليګا يلوبه

کابل بازان د مس عينک اتلانو پر وړاندې

د اتصالات فورجي شپږيزي کرکټ ليګ اووم پړاو سياليو په پايلوبه کې د ايوبي کابل بازان او حضرت لمبېټېږ مس عينک اتلان لوبډلې چې پايلوبې ته يې لاره موندلې وه، د يو بل پر وړاندې ډګر ته ښکته شوې چې په پای کې يې د کابل بازان لوبډلې د ياد پړاو سياليو اتلولي خپله کړه.

دا چې د دغې لوبې پچه مس عينک اتلان لوبډلې ګټلې وه، لومړی يې کابل بازان لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه چې کابل بازان لوبډلې د ټولو ويکټو په سوځېدو سره ۱۳۹ منډې ترلاسه کړې او مس عينک اتلانو ته يې د ۱۴۰ منډو هدف وټاکه.

ورپسې مس عينک اتلانو لوبه پيل کړه، خو يادې لوبډلې هم په د ۱۳۰ منډو ترلاسه کولو وروسته په ۱۹.۴ اورونو کې ټول

لوبغاړي له لاسه ورکړل او لوبه يې د ۹ منډو په توپير د کابل بازان لوبډلې ته وبايلله. په دغه لوبه کې د کابل بازان توپ اچوونکي ډېر ښه وځلېدل او له ډلې يې عظمت الله عمرزي او ننګيالي خروټي دوه-دوه ويکټې ترلاسه کړې او خپله لوبډله يې تر بريا ورسوله. د کابل لوبډله چې ډېرى پکې ځوان لوبغاړي راټول شوي وو، له پيل تر پايه د غوره لوبو کولو له امله د اتلولي تر څوکې ځان ورساوه او د اووم پړاو سياليو اتلولي يې په خپل نوم کړه.

د يادې لوبې د ډېرو شپږيزو وهونکي لوبغاړي جايزه دولت ځدران، د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه ننګيالي خروټي او د سټايلېش لوبغاړي جايزه نجات مسعود ته ورکړل شوه.

د يادولو وړ ده چې د شپږيزې کرکټ ليګ اووم پړاو سيالۍ د ۲۰۲۰ز کال د سپټمبر مياشتې په ٦مه نېټه پيل او د يادې مياشتې تر ١٦مې نېټې پورې يې دوام وموند چې اتلولي يې د کابل بازان لوبډلې په ګټه پای ته ورسېده.

Here

مشرانو جرگه
رییس عمومی کرکت بورد را تقدیر کرد

فضل هادی مسلمیار رییس مشرانو جرگه جمهوری اسلامی افغانستان به نمایندگی از این جرگه از فرهان یوسفزی رییس عمومی اداره کرکت بورد افغانستان بخاطر دست آوردها، عملی کردن پلانها و پالیسی های مثبت در عرصه کرکت، ایجاد تغیرات مثبت و فعالیت های بهترش با لوح تقدیر و مدال تقدیر به عمل آورد.

در آغاز نشست فضل هادی مسلمیار رئیس مشرانو جرگه کشور، فرهان یوسفزی رییس اداره کرکت بورد افغانستان را به بخاطر مدیریت بهتر، برگذاری فصل هفتم لیگ کرکت شپگیزه، آغاز پروژه های زیربنایی، افزایش عواید، به وجود آوردن شفافیت در امورات این اداره و مبارزه جدی علیه فساد مورد تقدیر قرار داد.

رییس مشرانو جرگه گفت: ”کسی که برای هموطنان ما خوشی می‌آورد، در یک اداره ملی تغیرات مثبت می‌آورد و برای عملی کردن پروژه های زیربنایی کار می کند، باید مورد تقدیر قرار بگیرد و ما امروز این تقدیر نامه و مدال را بخاطر کارکردهای مثبت برای تان اهدا می کنیم و امید می کنیم که در آینده نیز دست آوردهای خوبتری داشته باشید.“

آقای مسلمیار افزود: ”شما را به نمایندگی از خانه ملت ضمن تقدیر نامه، مدال نیز میدهیم. مشرانو جرگه کشور تاکنون هفت از این نوع مدال را اهداء کرده است که مدال هشتم را به شما اهداء میکند.“

باید گفت که در این نشست ضمن آقای یوسفزی، محترم نظیم جار عبدالرحیمزی سرپرست اجراییوی، مدیران منابع بشری و مطبوعات ادره کرکت بورد افغانستان نیز اشتراک داشتند.

همچنان در این نشست رئیس عمومی کرکت بورد افغانستان در مورد بخش های مختلف به رهبری و هیئت مدیره مشرانو جرگه معلومات داد.

فرهان یوسفزی رییس عمومی اداره کرکت بورد افغانستان برای اینکه مشرانو جرگه بخاطر فعالیت و دست آوردهایش وی را مورد تقدیر قرار داد از رییس و اعضای مشرانوجرگه قدردانی کرد و اطمینان داد که تلاش هایش را در بخش های مختلف بیشتر خواهد ساخت.

قابل یادآوری است که آقای یوسفزی پیش از این نیز از سوی برخی اعضای مجلس نمایندگان بخاطر فعالیت ها و دست آوردهایش مورد تقدیر قرار گرفته است.

پردرخشش ترین
بازیکنان فصل هفتم لیگ کرکت پیزه

لیگ کرکت شپگیزه یکی از لیگ های مهم داخلی کشور است که از سال ۲۰۱۳م به اینسو هرساله برگزار می شود و دور هفتم این لیگ روز یکشنبه (ششم سبتمبر) در بلندترین سطح و با اشتراک ملی پوشان کشور برگزار شد که تا تاریخ ١٦هم همین ماه ادامه یافت. این مسابقات که از سوی کرکت بورد کشور راه اندازی شده بود در آن ٦ تیم برای کسب عنوان قهرمانی رقابت کردند که در نتیجه تیم ایوبی کابل بازان در نهایت به قهرمانی رسیدند. برخی بازیکنانی در این فصل شپگیزه بودند که باعث شدند تا یک چهره تازه به این فصل شپگیزه بدهند و درخشش آنان باعث جذابیت بازی ها و جلب تماشاگران به ورزشگاه شد. وقار سلام خیل، عثمان غنی، کریم جنت و عظمت الله عمرزی از آن شمار بازیکنانی بودند که با کسب بیشترین امتیازات بازی تلاش کردند تا تیم های شان را به قهرمانی این لیگ برسانند که در ذیل به آنان اشاره میکنیم.

عثمان غني- بازیکن که در هفتمین فصل بیشترین دوش انجام داد:

از این میان، عثمان غنی بازیکن تیم بند امیر خاماران در فصل هفتم لیگ کرکت شپگیزه، نسبت به بازیکنان دیگر خوب درخشید و بیشترین دوش را در این لیگ انجام داد. وی در هفت بازی با چهار پنجاه دوش (هاف سنچری) ۳۵۵ دوش به سود تیم‌اش انجام داد که جایزه بهترین توپزن تورنمنت را نیز به نام خود کرد.

وقار سلامخیل-بهترین توپ انداز هفتمین فصل لیگ کرکت شپگیزه:

در همین حال وقار سلامخیل توپ‌انداز تیم بند امیر در این فصل نظر به توپ اندازان دیگر خوب درخشید و توانست در هفت بازی ۱۳ ویکیت بدست آورده و جایزه بهترین توپ انداز تورنمنت را به نام خود رقم بزند.

ننگیالی خروتی- بازیکن جوان یا ایمرجینگ هفتمین فصل شپگیزه:

همچنان لیگ "شپگیزه" فرصتی برای شناسایی و شگوفایی استعداد های جوان کرکت بود که از میان ننگیالی خروتی در بازی های فصل هفتم این لیگ خوب درخشید و توانست جایزه بازیکن ایمرجینگ (جوان) را بدست بیاوید. او در هفت بازی ۱۳ ویکیت بدست آورد.

کریم جنت و عظمت الله عمرزی- بهترین بازیکنان هفتمین فصل شپگیزه

در نهایت کریم جنت و عظمت الله عمرزی همچنان در این بازی ها، خوب درخشیدند که به ترتیب در شش بازی پنج ویکیت و ۲۲۴ دوش و در هفت بازی شش ویکیت و ۱۸۷ دوش کسب کردند. این دو بازیکن بطور مشترک جایزه بهترین بازیکن این فصل کسب را کردند.

پوهنتون کاردان
KARDAN UNIVERSITY

A World of Possibilities

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

In September 2018, Kardan Universityearned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Business Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA International Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Education in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articulated in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, student growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at Kardan.edu.af

عزیزی بانک
Azizi Bank

انټرنټ له لارې بانکوالي

- د عزیزي بانک په حسابونو کې په یو وار د زیاتو معاملاتو ترسره کول
- څو سطحي یا د څو صلاحیت لرونکو تایید (ګڼ واکونه)
- په ګروپ کې د یوصلاحیت لرونکي تایید (ډله ایز واکونه)

24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515
www.azizibank.af